# د باچاخان پېغام

# د پښتنو په وطن کښې دائمي امن

خان زمان کاکړ



د فخر افغان باچا خان يويشتم تلين په داسې وخت کښې نمانځل کېږي چې د لروبر افغان پېغام په خپله خاوره کښې د امن تامين او د پښتنو د قامي سياست چغه د سر د بقاء جنګ دے. په داسې وخت کښې چې لر و بر افغان د يو تور دوزخي دور نه تېرېږي، د باچا خان د يادګېرنې ارزښت څو چنده زيات دے. مونږ دا ياد د يو رسم په توګه هرګز نۀ کوو بلکې د ځپلې او ربړېدلې طبقې د دې بې رويه او بې ريا اتل ياد څۀ وو ايم، دا به د فطرت ارتقائي عمل، کۀ خپله قامي بدبختي او کۀ د نړيوالې استعمارګرۍ او سيمه ايزې چمچه ګيرۍ د اوج پړاؤ وي چې نن د امن او عدم تشدد د دې ستر علامت او علمبردار ياد د اور او وينې په دائرو کښې بنديوان د لفظونو په جامو کښې نغاړو. مکار او رياکار دښمن مې حېوانيت را په

په داسې وخت کښې د خلقو په وړاندې ږدو چې د سيمې ټول فسطائي سياستونه ئې د دنيا مخې ته بربنډ شوي دي. د خېر او شر ترمنځ د مبارزې په ننني اخري پړاوونو کښې د باچا خان د عدم تشدد فلسفه د محکومو او محرومو اولسونو د قامي سياست د پاره د ملا د تير حېثيت لري.

کښې پلن کړے دے، مذهبي جنونيت واکمن دے، د امن او عدم تشدد د استاذو په مقابل کښې قامي انتهاپسند فعال دي، د ټول پښتون او يو مرکز په ضد په زړونو او ذهنونو کښې قبيلويت راج کوي او له بولانه تر چتراله يوه بدخونده رويه، کمپرومائز او مصلحت ليدل کيږي خو د دې ټولو ناخوالو او نادودو باوجود د باچا خان تحريک دا دے نن د

يويشتمې پېړۍ په تېز سائنسي عصر کښې د لازمي تجديد او اجتهاد سره مخ په وړاندې روان دے. نن هم دا د ټولې نړۍ د اولسونو دپاره د سوکاله او سوله ايز ژوند ، ملي همکارۍ او بين الانساني مينې او امن يو ستر سمبول ګڼلے شي.

د باچا خان د عدم تشدد فلسفه د پښتونولۍ د مثبتو قدرونو Pruduct دے او د منفي قدرونو په حقله د يو تنقيدي اظهار جسارت دے. باچا خان د پښتون کلچر او پښتنو نفسياتو د سياق و سباق نه پرته مطالعه کېدے نۀ شي. د هغۀ ژبه ساده او اسانه ده خو په زړۀ پورې نکته دا ده چې د هغۀ ټولې خبرې د ژوند په ډګر کښې د عملي کېدلو پوره امکان لري. باچا خان د افراط او تفريط نه په بېل تناظر کښې د فکري جوړښت او سياسي مبارزې د يوې داسې لارې نشاندهي کوي چې د پښتنو د نفسياتو سره سمون هم خوري او پښتنانۀ پرې منزل ته د تګ جوګه کېدے هم شي. ځکه چې باچا خان د پښتنو د کلتور يو صحيح ادراک او پوخ شعور لرلو.

باچا خان په پښتنو کښې د متشددو رجحاناتو عوامل په خپله په پښتنه ټولنه کښې مطالعه کړل. هر څو کۀ مخصوص بېروني حالات، جغرافيائي او معاشي عوامل په ټولنيزو قامي ذهنونو اثر انداز کېږي خو ولې جنګي نفسيات په خپله د قامونو په اندرون کښې روزل کېږي او د قامونو خپلې اندروني نيمګړتياوې جنګونو ته لارې پرانزي. ځکه نو د قامي نفسياتو او ټولنيزو رويو او رواياتو مطالعه د جنګي صورتحال په څېړنه کښې منطقي مرسته کوي، جذبات په قامي ناکاميو تمامېږي، د اعتدال لار د ژوند لار وي، د عدم تشدد فلسفه په هم دې بنسټ ولاړه ده او ټول مترقي تحريکونه هم په دې لاره خپل سياستونه مخ په وړاندې بيائي.

د باچا خان د عدم تشدد فکر په وړومبنۍ تجزيه کښې د اعتدال تبليغ دے او د پښتنو د ټولنيز ژوند په عکس العمل کښې د يو توازن سبق دے.

**د باچا خان د عدم تشدد فکر په وړومبنۍ تجزيه کښې د اعتدال تبليغ دے او د پښتنو د ټولنيز ژوند په عکس العمل کښې د يو توازن سبق دے.**

هغه رويې او روايتونه چې د پښتنو ژوند ئې د خپل مدار او معيار نه بې ځايه کړے ؤ او هر چرته ئې غېر متوازن صورتحال پېدا کړے ؤ. د هغوي په حقله د باچا خان د "انجمن اصلاح افاغنه" ابتدائي ټکي په حقيقت کښې د پښتنو د ټولنيز ژوند په حواله د يو تنقيدي اپروچ اظهار دے. د دنيا اولسونو د غېرت ټکے په ژورور معنو کښې وڅېړلو، په خپله خاوره د امن تامين، معاشي مساوات او علمي و سائنسي ترقي ئې د قامي غېرت بنيادي Factors وګڼل. د پښتون غېرت د تورې او ټوپک سره تړلے د تربور د مرګ او يا د نورو د مفاداتو د چوکيدارۍ نعم البدل شو. کۀ د روس خبره کوو، کۀ د امريکې او کۀ د نن د طالب او پنجابي، اوله پړه به مې په ځان وي بيا مې نورو ته مخ اوړي. نن هم په دې خبره سوچ پکار دے

چې د پښتنو جنګ او مزاحمت د چا په ګټه تمام شوې دې؟ صرف جنګونه کول بهادري نۀ ده بلکې د جنګونو نتائج په خپل حق کښې راوړل غواړي.

دا خبره د اساسي نوعیت ده چې تر څو په پښتنو کښې د خود تنقیدۍ او خود احتسابۍ رجحان را پېدا نۀ شي، تر هغې پورې د دې خاورې نه د تشدد خاتمه نۀ شي کېدے.

د روڼ آندو مسوولیت مې باید دا وپامول شي چې د یویشتمې پېړۍ په دوزخي محاذ ولاړ پښتون په خپلو جنګي کارنامو د غاوره کولو په ځائے باید د باچا خان د دې نزدې سولئیزې مبارزې د تاریخ سره اشنا کړي. نن چې په اردو مېډیا او د پښتنو په جهادي مطبوعاتو کښې د پښتنو د غېرت په نوم د کوم جذباتیت خورولو هڅه کېږي، ددې مخنیوے د مترقي مکتب فکر خلق یواځې د عدم تشدد د فلسفې په وضاحت او تشریح سره کولے شي.

ضرورت د دې دے چې د پښتنو په قامي مسائلو او قامي سوالونو دې په پراخ نظر د نوو رجحاناتو په تناظر کښې په علمي او سائنسي بنیاد غور وشي او د قام نفسیات دې ببرته د اعتدال چوکاټ ته راستانۀ کړے شي.

دا خبره د اساسي نوعیت ده چې تر څو په پښتنو کښې د خود تنقیدۍ او خود احتسابۍ رجحان را پېدا نۀ شي، تر هغې پورې د دې خاورې نه د تشدد خاتمه نۀ شي کېدے.

دا یوه عامه مشاهده ده چې پښتنو کله هم د امن ضرورت محسوس کړے دے او د امن دپاره مبارزې کولو ته اماده شوي دي، د دښمن په مطبوعاتو کښې د پښتنو د جنګي تاریخ تذکرې پېل شوې دي، لړې به نۀ څو په حال کښې موجود پاتې کېږو. دا نن چې پښتون د کوم تور دوزخي دور نه تېرېږي او د دې نه د نجات دپاره چې د امن او عدم تشدد د استاځو کومه مبارزه روانه ده، د دې په رد عمل کښې چې د پښتنو جهادي او قامي انتهاپسند او د اردو اجرتي دانشوران د پښتنو د جنګي تاریخ کومې اوږدې اوږدې قصیدې لیکي دا د چا نظر دے او د چا دپاره دے؟ دښمن غواړي چې د پښتنو کلتور په خپل ځائے جامد وساتي او د دې کلتور قدامت پسند بنیادونه نور هم مضبوط کړي. کله چې د دې جمود او قدامت پسندۍ د ماتولو دپاره کوم متحرک او مترقي خلق مبارزه پېل کړي، د جمود ښکرور ئې د خپلې ریاستي مشینرۍ په زور د خلقو په سترګو کښې متنازعه وګرځوي. په پښتنو کښې ئې دا مسوولیت د منبر او محراب مقتدر ته سپارلے دے، د مذهب په حواله د پښتنو روند تقلید او جذباتي عقیدت د قامي مبارزې په وړاندې تر ټولو لوئے خنډ ګرځېدلے دے او هم دا عمل وروورو د پښتنو په ماتې د تمامېدلو په خوا روان ښکاري. د ولي خان په قول "پښتانۀ بې د مذهب نه په بل څۀ نۀ شي وهل کېدے".

هر څو کۀ د نړۍ قامونه د پښتني کلتور د مثبتو قدرونو په حقله پوره علم نۀ لري خو دومره

ضرور پوهېږي چې د پښتنو د مذهبي حساسيت پسندۍ نه په هر ډول حالاتو کښې ګټه پورته کېدے شي. دا بيا بېله مسئله ده چې د دنيا د دې سوچ په نتيجه کښې هر څۀ ګډوډ کړے شول او اخر کار دا حقيقت ومنلے شو چې افغانستان د آسيا زړۀ نۀ بلکې د دنيا زړۀ دے کۀ دا نا آرامه وي نو په ټوله دنيا کښې امن نۀ شي راتلے خو د دې باوجود د سرمايې د مسلک ښاغلي تر خپلو اهدافو پورې په هر صورت ځان رسول غواړي. په دې حالاتو کښې نن هم وخت شته چې پښتانۀ فېصله وکړي چې هغوي په دې اقتصادي اور کښې ځان د خشاک په توګه استعمالوي او کۀ د قامي بقاء دپاره د يوې پر امنه سياسي سټرېټيجۍ او د باچا خان د عدم تشدد د فسفې مرسته او ملګرتيا کوي؟

"پښتون طالب دے او طالب پښتون دے" د دې خبرې جرړې او موخې په خپل ځائے، سوال دا پېدا کېږي چې د دې سازش په رد عمل او ځواب کښې په نړېواله کچه د پښتنو دانشورانو کنټريبيوشن څۀ دے؟ د دنيا په سترګو کښې د يو قام په حواله هغه وخت يو ښکلے امېج او يو ښۀ تاثر پېدا کېدے شي چې په خپله په دې قام کښې د دې امېج او تاثر ګنجائش موجود وي. دا يو حتمي امر دے کۀ زۀ د چا "غل" په کور کښې ساتم نو زما پېژندګلو به د خلقو په نظر کښې د يو "غل" وي.

> ضرورت د دې دے چې د پښتنو پر قامي مسائلو او قامي سوالونو دې په پراخ نظر د نوو رجحاناتو په تناظر کښې په علمي او سائنسي بنياد غور وشي او د قام نفسيات دې بېرته د اعتدال چوکاټ ته را ستانۀ کړے شي.

باچا خان ټول عمر د پښتنو نه د "غل" د توري د لرې کولو او د اتل د ټکي د لګولو دپاره مبارزه وکړه. باچا خان به وئيل "زۀ د پښتنو نه تر لرې کوم او نر ورسره لګوم".

د نن د پښتون نر توب به دا وي چې په قامي تحريک کښې په سنجيده او پرامنه بنيادونو مبارزه وکړي او ځان د نړۍ په اکاډميک چاپېريال کښې سيال وګرځوي.

د پښتنو د ملي مشر اسفنديار ولي خان په قول "مونږ د خپلو بچو دپاره خودکش بمبار جېکټ نه بلکې قلم، کتاب او د سکول يونيفارم غواړو".

هم دا د باچا خان فکر دے او هم دا د پښتنو د خلاصون يوائينۍ لار ده. تجزيې ډېرې وشوې مګر ټولې ناکامه او بدنامه شوې، څوک خپلو مذهبي تشريحاتو وخوړل، څوک د حالاتو ناکردو بې لارې او بې ګودره کړل او څوک په سياسي تربورګلوۍ کښې د پښتنو د قاتل په سيوري کېناستل. يوائې د باچا خان کور دے چې د لروبر افغان سترګې په هر وخت کښې ور اوړي او هم دا د پښتنو اسره او سهاره ده.

نن کۀ د امن او سلامتۍ ارمان ته څوک د عمل جامې اغوستول غواړي نو د باچا خان سياسي مکتب ته به پاملرنه کوي. نن هم په دې سيمه کښې دا يوائينے مکتب دے چې د ټولو محکومو او امن دوستو انسانانو بالعموم او د لروبر افغان

بالخصوص د توجه مرکز دے. دا حقیقت به نور د منلو وي چې د پښتنو په کلتور کښې د مترقي نېشنلزم ربښې چې هر څومره زوړ تاریخ لري خو دا تاریخ چې د شلمې پېړۍ او بیا د یوویشتمې پېړۍ تر درشل پورې رارسي نو په ټول لرو بر افغان کښې د باچا خان سیاسي مکتب هغه یوائینے پلېټ فارم ګرځي چې افغانان ئې خپل ګڼي، هغوي ورسره رشته پالي او د ټول پښتون او یو مرکز د حصول سنګر ئې ګڼي.

د باچا خان تحریک د محکوم انسان د خپلواکۍ، د یوې غېر طبقاتي او پرامنه ټولنې د قیام تحریک دے. دا په جمهوري، لبرل او سیکولرو بنیادونو ولاړ دے، دا د انسان د عظمت،وقار او حق دفاع کوي او د یو غېر طبقاتي نظام د قیام دپاره مبارزه کوي.

د باچا خان تحریک دا دنیا د ذاتي هوس او ذاتي ملکیت په جنګونو کښې په وینو سره نۀ غواړي بلکې دا دنیا د انسانانو دپاره یو پرامنه کور جوړول غواړي چې ټول انسانان په کښې بغېر د کوم نسلي، لساني، جغرافیائي او ملکي تعصب نه ژوند وکړي. داسې دنیا چې انسان په کښې خپل ټول فطري صلاحیتونه په کار راوړي او سائنس، سیاست او فلسفه د ژوند د ترقۍ او ارتقاء اسباب وګرځي.

نن چې هر طرفته په اسمان کښې د جنګونو وریځې خورې دي، یو سر سبورے نۀ لري او لارې ګودرې په بمونو ډکې دي، د باچا خان د فکر د سیاسي او سائنسي څېړنې ضرورت زښت احساسېږي. د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه کښې د انسان د دائمي امن راز پټ دے. د موجوده نړۍ د جنګ پسندو خلاف به د باچا خان د عدم تشدد تر ببرغ لاندې رد عمل ښکاره کول وي، پرته د دې نه بله لار په نظر نۀ راځي.




پښتانۀ به د دې تور دور نه د ځان را اېستلو دپاره عدم تشدد د یو مثبت رجحان په توګه قبلوي او هم دا به د ځان نجات دهنده ګڼي. اوس وخت د دې دے چې باچا خان وپېژندل شي او نور روایتي تبلیغي انداز ته د پائے ټکے کېښودل شي. د عدم تشدد روح ته کوزبدل پکار دي او د پښتنو د روانو حالاتو په تناظر کښې د دې نوې څېړنه او شننه پکار ده، د قامي تحریک دانشورانو ته بویه چې باچا خان وپېژندنه د یوې فکري، سیاسي او علمي موضوع په توګه تر ژور نظر لاندې ونیسي او د نوو رجحاناتو په تناظر کښې د باچا خان په حقله نوي مواد د دنیا مخې ته راوړي. په دې حواله د بحث او

مکالمې یو رجحان پېدا کول پکار دي. د پښتو پرنټ او الیکټرانک مېډیا باید په دې حقله خپل مثبت کردار ادا کړي. هم دا د امن د پروسس بنیادي محرکات دي او هم دا د باچا خان تاریخي حق او د پښتنو تر ټولو لوئې ضرورت دے.

نن د باچا خان بابا د یوویشتم تلین په مهال هر پښتون ته دا عزم کول پکار دے چې:

د باچا خان بابا په فکر او پښتو مې قسم
چې لوئې خیبر ته به ګلونه د بېدیا راوړمه

دخپل ننګیال شهید په پاکو وینو سرو مې قسم
چې سره جنډې به په دې لار د ارتقاء راوړمه